# د ملی پیوستون پروګرام
## بریالی کیسه

**پراختیایي شوراګاني په کلیو کي روزني ته وده ورکوي**

د غور ولایت د تولک ولسوالي د رباط په کلي کي د فعالوپراختیايي شوراګانو په منځ ته راتلو سره ډير ښه روزنيز فرصتونه منځ ته راغلي دي ،یوشمير زيات ځوانان او مشران کولي شي دسواد د ز ده کړي په کورسونو کي چي د پراختیايي شورا ګانو له خوا منځ ته راغلي زده کړي وکړي دپراختیايي شوراګانو غړيو پريکړه وکړه دسواد زده کړي د کورس منځ ته راولو ته لومړيتوب ورکړي او دملي پيوستون پروګرام دکارتر پيل نه وروسته پدغه ولسوالي کي دسواد زده کړي زيات شمير کورسونه پرانستل شويدي او خلکو دکلي زده کونکو لپاره با تجربي استادان ګمارلي دي .

دپراختیايي شورا ښځینه اونارینه غړي ټولګيو نه څارنه کوي او په همدي وخت کي دکلي خلک دي ته هڅيږي چي دسواد دزده کړي په کورس کي ګډون وکړي او خپله راتلونکي روښانه کړي . د سوادزدکړي کورس هره ورځ په منظم ډول دوام لري او په بریالیتوب سره پرمخ ځي ، ښځي دسهار له خوا ، او نارینه دماسپښين له خوا په کورس کي ګډون کوي .

له نيکه مرغه دکور س يو زيات شمير فارغين په تيره بيا ځواني نجوني چي مخکي يي سواد نه درلود اوس کولي شي چي دازمويني په تيرولو سره په څلورم ټولګي کي شاملي شي ، اوس ددغه کورس اکثره زده کونکي له زده کړي سره ډيره مينه لري تر څوپه راتلونکي کي خپل ويجاړ هيواد ته خدمت وکړي .

ميرمن ګلالي دپراختیايي شورا يوتن غړي او دسواد دزده کړي د کورس زده کوونکي وايي ، مخکي لدينه چي په کلي کي دسواد دزدکړي په کورس کي شامله شم بي سواده وم ، او اوس کم له کمه کتابونه لوستي شم ،زمونږ ښوونکو مونږ ته راښودلي چي څه ډول روغتيا ساتنه مراعات کړو او دناروغيو له اخته کيدو نه مخنيوي وکړو، په اوس وخت کي زه يوه پوه ښځه يمه او کولي شم چي خپل کوچنيان ښه وروزم .





*د ملي پيوستون پروګرام دسيمه ايزوپراختیايي پروژو د ځانګړي پلان جوړولو ،اداري او څارني او دافغاني ټولني د ځواکمن کيدو لپاره دافغانستان ددولت له خوا تاسيس اوپيل شويدي . د ملي پيوستون پروګرام چي نوي پراختیايي لاره يي منځته راوړه ، کلي دي ته چمتو کوي چي دخپلو اړوندو چارو په هکله تصميم ونيسي او دپروژي د کار په ټولو پړاوونو کي خپلي چاري تنظيم او اداره کړي دغه پروګرام داسي بنستونه جوړوي چي دکليو دسيمه ايزحاکميت دوام ، د کليو بيارغونه او دبيوزلي راټيټول پکي شامل دي .*

*د ملي پيوستون پروګرام په اړه دلا زياتو معلوماتولپاره دغي انترنتي پټي سره اړيکي ټينګي کړي .*
*www.nspafghanistan.org يا ايميل info@nspafghanistan.org*